اوفا شبکه
د افغان مفکرينو مرکز

د واخان پاڼې | پان افغانيزم
څلورمه ګڼه - ډېسمبر ۲۰۲۴

ستراتيژيک نظريات: تاريخ | جغرافيه | ستراتيژي

# د ملي کرکتر بحث: د ستراتېژيکې بېدارۍ اړتيا!

ليکوالان: فضل‌حق حقمل او هارون رحيمي



www.org4afg.org
info@org4afg.org

## د واخان د پاڼو مهم اصول

دغه پاڼې د ستراتیژیکو ارزونو د دودولو، فکرونو هڅولو،او بنسټیزه کولو په موخه چمتو کېږي. کېدای شي په راتلونکې کې لوی هېواد لپاره د ستراتیژیکو نظریاتو د ټولګې حیثیت ترلاسه کړي. دغه سند د کارول شوو اصطلاحاتو پر تشریح او سریزې سربېره لاندې برخې لري:

**لومړۍ برخه** ستراتیژیکي ننګونې سپړي. **دوییمه برخه** ستراتیژیک فرصتونه په نښه کوي. **درېیمه یا وروستۍ برخه** لوستونکو ته د بحث اړوند پوښتنې وړاندې کوي. د لیکنې په پای کې د لا زیاتې مطالعې لپاره سرچینې هم وړاندې شوې دي.

## مصطلحات

**ملي کرکټر**. یو ملت څومره پر خپلو ملي ګټو او ارزښتونو ولاړ دی؟ د ساتلو لپاره یې د وخت، د پیسو او هڅو څومره قرباني ورکولای شي؟ د شاتګونو پر وړاندې څومره خپل ملي یووالی ساتلی شي؟ د دوی په اړه د نورو ملتونو انګېرنه څه ده؟

**میخانیکی فکر**. منجمده او خطي فکر دی چې پر ټاکلو فرمولونو تکیه کوي پرته له دې چې خلاقیت، انعطاف پذیري او د حالاتو پوهاوی په پام کې ونیسي.

**ایکو سیستم**. د څو طبقو یوه شبکه ده چې په کې یو بل سره تړلي اړین سیستمونه دي. هره طبقه یا برخه له نورو سره په اړیکه کې ده او هره برخه د دې لپاره مهمه ده چې ټول سیستم په سمه توګه کار وکړي، لکه طبیعت چې په کې د ځمکې، اوبو، او هوا طبقات یو بل ته اړتیا لري.

**کلاسیک هېوادونه**. د ستراتیژیکو ادبیاتو له مخې، هغه هېوادونه دي چې خپل تاریخ، پوځي ستراتېژي، جغرافیه، او واکمنان یې درلودلي او پر خپل وزن نه راپرېوځي.

**هایبریډي ګواښونه**. متعارف او نامتعارف ګواښونه چې نظامي، سایبري او ایډیولوژیکي جګړې په کې شاملې دي. د دې ګواښونو د نوعیت څرګندول پېچلي دي.

**کلتوري ستراتېژي**. د پخوانیو امپراتوریو لخوا کارول کېده تر څو د مخالف لوري علمی او پوځي کادرونه جلب کړي. په دې توګه، خپل د سیال ځواک، اغېزه او روحیه کمزوری کړي. لکه اوس چې افغان ملت د کادرونو له تېښتې سره مخ دي.

**ستراتیژیکه بیداري**. په ۲۱مه پېړۍ کې د قدرت انډول ته په کتلو سره، چې فضاي مدارونه، ځمکه ، سمندرونه، د انسانانو ذهنونه او فکرونه د رقابت پر ډګرونو بدل شوي، یو ملت څنګه خپلې حیاتي ګټې خوندي کولای شي او اوسمهالی فکر کولای شي.

## سریزه

میا نور محمد کلهوره، چې احمد شاه بابا د شاهنواز لقب ورکړی و، په ۱۱٦۱ هـ = ۱۷۴۸ م کال کې د سند امیر و. د نوموړي حکومت له احمد شاه بابا سره خپلې مالیاتي وعدې نه وې پوره کړې، دې کار ستر افغان امپراتور په غوسه کړ. احمد شاه بابا د سردار محمد جهان خان  تر مشرۍ هند ته د سفر لپاره یو لښکر چمتو کړی و، خو وروسته څرګنده شوه چې هغه خپله سند ته راځي. میان نور محمد کلهوره په بېړه خپل سفیر دیوان ګدومل د احمد شاه بابا حضور ته واستاوه، څو د امیر د اطاعت او بخښنې پیغام ور ورسوي.

نوموړي له ډېرو هڅو او اوږدې تمې وروسته، په نوښار کې د احمد شاه بابا حضور ته ورسېد او د هغه د رضا ترلاسه کولو لپاره یې خپل ټول ځواک په کار واچوه. له ځان سره یې په جوالونو کې یو شمېر سوغاتونه راوړي و، چې په کې یو جوال خاوره وه. احمد شاه بابا پوښتنه وکړه: «په دې سوغاتونو کې څه دي؟» سفیر ور ته وویل: «د سند یو له غوره سوغاتونو څخه، یعنې د سند د اولیاو د قبرونو خاورې.» احمد شاه بابا په ډېر درنښت دغه سوغاتونه ومنل، او په دې توګه یې د سند له چارواکو سره خپل اړیکې نرمې کړې.

دا لنډه کیسه د افغانستان کلاسیک تاریخ، قاره‌ییز اهمیت او په ټوله کې د افغان ملي کرکټر ښکارندویي کوي. لیکن له لسیزو را په دې خوا، ملي تفرقو او بېروني لاس وهنو زموږ دغه ملي کرکټر د نړیوالو په ذهنونو کې سخت زیامن کړی دی. د دې زیانمنې د ژوروالی ښه مثال د سوریې د نوي واکمن په ورستیو څرګندونو کې لا روښانه شو. بل تر ټولو تازه او څرګند مثال یې د روان کال د ډېسمبر پر ۲۴مه د افغان پر خاوره د پنجابي هوايي ځواکونو بریدونه دي.

افغان باید خپل کلاسیک شتون او تاریخي ارزښتونه د ۲۱مې پېړۍ د نوو جیوپولیټیکي پرمختګونو سره په بشپړه همغږي او ملاتړ را ژوندي کړي. **د دې افغاني مزل د بریا لپاره موږ ستراتیژیکې بېدارۍ ته اړتیا لرو.** دا لیکنه هڅه کوي چې په دې اړه بحث ته وده ورکړي.

## ستراتیژیکې ننګونې

**نړۍ او ناڅرګنده چاپېریال.** نړۍ اوس د پخوا په پرتله له ډېرې ژورې ناڅرګندتیا سره مخ ده. د دې ناڅرګندتیا ریښې په هایبریډې ګواښوونو کې دي. فضايي مداروونه، ځمکه، سمندرونه، سایبري ظرفیتونه، او د انسانانو ذهنونه ټول د سیالیو ډګرونه دي. روباټونه، ډرون او مصنوعي استخبارات دغه چاپېریال لا پېچلې کوي. دغو شرایطو ته په کتلو سره، په ټوله نړۍ کې هېوادنو  ملتپالنې یا نېشنلزم ته مخه کړې. له همدې امله په ګڼو هېوادونو کې ملتپال ګوندونه او مشران واک ته ورسېدل، لکه ایټالیا، پولنډ، اتریش، فرانسه او داسې نور. په سوریه کې د ترکې فعال نقش د ترکي ملتپانې یا پان ترکېزم مثال دی چې په ټوله کې د ملتپانې وده ښيي.

**سیمه او جیوپولیټیکل بدلونونه.** زموږ ګاونډیان (پاکستان او ایران) دواړه پراختیا غوښتونکي دي. افغان خاوره د خپلو پوځي عقبو او اقتصادي زونونو لپاره کاروي. د تېر نومبر پر ١٦مې هند خپل هایپرسونیک توغندی[1] په

[1] **هایپر سونیک وسلې:** (٥ مرتبې د غږ له سرعت یې سرعت ډېر دی. او  ٦٢٠٠ کیلومتر فی ساعت مزل کوي.

بريالي توګه وازمويل او اعلان يې وکړ چې هند اوس د هغو ځانګړو هېوادونو (روسيې، امريکا او شمالي کوريا) له کلب سره يوځای شوی چې دغه توغندي لري. د هند دغه بريا د چين او پاکستان ويرې او تشويشونه لا زياتوي. په ورته وخت کې، پاکستان، چې له خپلو اقتصادي ننګونو او داخلي مقاومتونو سره مخ دی، هڅه کوي خپل د بالستيکي توغنديو برنامه پرمخ يوسي. په ټوله کې، دغه سيالۍ سيمه د لا بې ثباتۍ لوري ته وړي.

**په کور کې دننه.** افغانستان له اقتصادي بنديزونو او ننګونو سره لاس او ګريوان دی. سياسي، علمي او پوځي مشران يې له هېواد څخه وتلي دي او هېواد د کلتوري ستراتېژۍ تر يرغل لاندې دی. ملي صلابت مو کمزوری دی او زموږ ملي فکر د نوو جيوپوليټيکي پرمختګونو سره عيار نه دی. افغانستان چې په تاريخي بڼه د آسيا د زړه په توګه پېژندل شوی او لويديځ او ختيځ تر منځ د فرهنګي او اقتصادي تبادلو مهم څلور لاری و، اوس د جيو پوليټيکي لاس وهنو له کبله، د جنوبي آسيا هېوادونو په لېست کې يادېږي (يعنې زموږ زموږ کلاسيک قاره‌ييز رول، مالکيت او اهميت يې کمزوری کړي).  په ټوله کې، تېرو او روانو ناخوالو، زموږ ملي کرکټر تر پوښتنې لاندې راوستلی دی.

په نړيوالو اړيکو کې سېګنالونه، سېمبولونه، يا نښې او نښانې خپل ځانګړی مفهوم او معنا لري چې په هغه وخت او زمينې پورې تړاو لري. که افغانستان خپل ځان عيار او بدای نه کړي، خپلو خلکو ته د افغاني ارزښتونو په وړاندې کولو کې به پاتې شي، يو ارزښت به د بل ارزښت پر وړاندې قرباني شي، او په دې توګه به خپل د وجود دليل له لاسه ورکړي.

## ستراتيژيک فرصتونه

د ۱۷۰۰ کلونو څخه شروع او تر ننه پورې، هر هغه هېواد چې په بشري پرمختيايي انقلابونو[2] کې مخکښ رول لوبولی يا يې مشري پر غاړه درلودلې، يا له لويو ستونزو سره مخ شوي دي، د هغوی د بريا راز دا دی چې هڅه يې کړې تر څو نوي، نوښتګر، زړور او ستراتيژيک مزلونه ووهي.

د دې لپاره چې افغان خپل د وجود دليل له لاسه ور نه کړي، بايد خپل کلاسيک شتون او تاريخي ارزښتونه، چې زموږ د ملي کرکټر اساسات جوړوي، د ۲۱مې پېړۍ د نوو جيوپوليټيکي پرمختګونو سره په بشپړه همغږي او ملاتړ را ژوندي کړي. په دې توګه د خپل هېواد **ملي کرکټر** ته نوی ستراتيژيک دريځ، ځواک او اعتبار ورکړي. د دې **افغاني مزل** د بشپړولو   لوی فرصت لا هم په لاس کې لرو، خو دا کار په ميخانيکي فکرونو او ميکانېزمونو او لنډ پارو کړنو نه کېږي. **موږ يوې ستراتيژيکې بېدارۍ ته اړتيا لرو چې کولای شي لاندې اړخونه په ځان کې را ونغاړي:**

[2] ۱)لومړی انقلاب د بخار انجن/ تيلګراف ( ۱۷۰۰ پ) نړيوال اقتصاد ته يې مراسته وکړه۲)په ۱۸۰۰ پ کې تيلفون او بيسم انقلاب  او ورسره د هينر فورد او په  صنعتی انقلاب (موټر)۳)د دويم نړيوال جګړې وروسته  سيم کندکتور توليد... کمپيوټر  او ۱۹۷۰ کالونو شاوخوا کې د انټرنټ ۴)نن نړۍ د ۴ انقلاب پر ژۍ ولاړه ده ( روباټونه/ مسنوعي استخبارات او ديجټلي کېدل؟

(۱) **د افغان فکري ایکو سیستم فعالېدل.** افغانان کولای شي د انټرنېټ په وسیله ستراتیژیکې زده کړې او روزنې وکړي. ځکه، د نن ورځې اړتیا همدا ده چې افغان دې امنیتي/ دفاعی ستې او مدیران شي او له معاصرو شرایطو سره سم دې فکر وکړي. په دې توګه، خپل د هېواد ګټې، د اړیکو او ځواک انډول د فضایي مدارونو، ځمکې، سمندرونو، سایبري ظرفیتونو، او ورته نورو سیالیو په ډګرونو کې تعریف او خوندی کړي. دغه ایکو فکری ایکو سیستم هغه وخت به بشپړه توګه فعالېدای شی چې افغان وګړي د ژوند له ټولو اړخونو په کې ونډه واخلي.

(۲) **ستراتیژیک دود.** موږ باید ستراتیژیک دود ته ورسېږو او خپل د جغرافیې نقش درک او بېرته را ژوندی کړو، او خپلې پولې ملي کړو.

(۳) **ملي حافظه او تروما.** موږ د سیمه‌ییزو لاس‌وهنو او د هغوی د عاملینو له کبله له ژورې ملي تروما څخه کړېږو. زموږ ملي حافظه یې په ژوره توګه زیانمنه کړې. ځکه اړینه ده چې یو بل ته اوږه ورکړو تر څو د یوې سالمې ملي حافظې او ملي ډېسپلین څښتن شو، کوم څه چې د افغانستان په څېر یو کلاسیک ملت ځانګړنه او اړتیا ده.

(۴) **دودیز ملګري/ جغرافیه او افغان پالنه.** افغانان د تېل شوې دښمنۍ په داسې یوه کړۍ کې ګېر دي، چې یوازې یې د ماتولو توان نه لري. دښمن مکار او برلاسی دی. د ځواک د انډول د بیا رامنځته کولو لپاره اړینه ده چې له خپلو دودیزو ملګرو سره، چې بلوڅان او سیندیان دي، خپلې اړیکې ورغوو. په دې توګه باید افغان ملت خپلې ګټې د کابل د سړکونو پر ځای په لاهور ، پنجاب، او تهران کې خوندي او ډاډمنې کړي.

## پوښتنې

- د پورتنې بحث په پام کې نیولو سره، د افغان ملي کرکټر باید کومې ځانګړې او عناصر ولري؟
- آیا د دې وخت نه دی راغلی چې افغان دې په خپله پرېکړه وکړي چې څه غواړي او د څه لپاره ودرېږي؟
- ګارنیزون شوی په اوچه کې ګیر افغانستان غواړئ که برج اور افغانستان؟

## References


- حبیبي، عبدالحی. *د افغانستان لنډ تاریخ* . کابل: د افغانستان د تاریخ پوهانو ټولنه، ۱۹۶۷.
- Bloch, Marc. *Strange Defeat: A Statement of Evidence Written in 1940*. Translated by Gerard Hopkins. New York: W.W. Norton & Company, 1999.
- Gray, S., Gray & Sloan Geoffrey. *Geopolitics: Geography and Strategy*. Frank Class Publisher, 1999.
- Gray, Colin S. *Fighting Talk: Forty Maxims on War, Peace, and Strategy.* Potomac Books, 2009.
- Kaplan, Robert D. *The Revenge of Geography*. New York: Random House, 2012.

- Krepinevich, Andrew F. *The Origins of Victory: How Disruptive Military Innovation Determines the Fates of Great Powers.* New Haven: Yale University Press, 2023.
- Lewis, David. "Strategic Culture and Geography." *The Marshal Center& Security Insights*. 1867-4119 No 36 (2019): information on the Marshall Center can be found at www.marshallcenter.org
- Mahnken, Thomas, G. "United States Strategic Culture." *SAIC: November 2006*
- Michael, Haas. Switzerland's Defense and Security Policy: Challenges and Opportunities
- Neville, Wylie. Swiss Neutrality Examined. From the Cold War to the War on Terror.
- Park, Jaehan. "Rethinking Geopolitics: Geography as an Aid to Statecraft." *Texas National Security Review*, Vol 6, Iss 4(2003): http://dx.doi.org/10.26153/tsw/48843
- Pande, Aparna. *From Chanaka to Modi: The Evolution of India's Foreign Policy*. Harper Collins Publishers Inida, 2020.
- Rhodes Andrew. *Thinking in Space: The Role of Geography in National Security Decision Making* (2019). http://dx.doi.org/10.26153/tsw/6664
- Sloan, Geoffrey. *Geopolitics: Geography and Strategic History*. Rout Ledge, 2017.
- Zaglul, Haider. "A Revisit to the Indian Role in the Bangladesh Liberation War." *Journal of Asian and African Studies*, 44(2009): https://doi.org/10.1177/0021909609340062

دا د واخان د پاڼو له لړۍ څخه څلورمه پاڼه یا کړی وه. د واخان پاڼې د اوفا شبکې د افغان مفکرینو د مرکز له خوا ترتیب او خپرېږي. د اوفا شبکه بېداره او روڼ اندي ځوان افغانان د پان افغانیزم ارمانونو د ترویجولو لپار سره ټولوي، چې دا عمل د مطلق افغانیت ستراتیژي په نوم یادېږي او د ملي حاکمیت د کړنو د لارو چارو د بدلون او د یو پیاوړي مرکزي جمهوریت د راستنېدو لپاره به ترې ګټه اخلي.

په ټوله کې، اوفا پر لوی هېواد افغانستان باور لري.

وېب پاڼه: www.org4afg.org

برېښنالیک: info@org4afg.org

اېکس (X): www.x.com/org4afg

**لیکوالان:**

فضل الحق حقمل د اوفا شبکې مخکښی غړی دی. نوموړی غواړي چې د جنګ ادبیاتو (نظامي مفکورې او ستراتیژۍ) په برخه کې تخصص ولري.

هارون رحیمي په کاناډا کې د اوفا شبکې مشر دی . ښاغلی رحیمي کلاسیک اسلامي لېټرېچر مطالعه کوي.